# د یمن پر غمیزې د سویډن هوکړه او د هغې اغېزې



**پوښتنه**
د ۲۰۱۸م د ډیسمبر پر ۱۸مه، د فرانسي ۲۴ ویبپاڼي خبر ورکړ: «د یمن په حدیده ښار کې وروسته تر هغه د حکومت پلوو ځواکونو او حوثي یاغیانو ترمنځ نښتې پیل شوې، چې د ملګرو ملتونو په ملاتړ شوی اوربند څو دقیقې مخکې ټینګ شوی و.» (فرانسه ۲۴ ویبپاڼه، ۱۸/۱۲/۲۰۱۸). پر همدې نېټه عربي سپوټنیک خبري ویبپاڼې راپور ورکړ: «د «انصارالله» ډلې مذاکره کوونکي پلاوي، یوه غړي د سویډن د هوکړې په اړه وویل: «دغې هوکړه کې د حدیده بندر سپارل او له حدیده ښار څخه د حوثیانو وتل شامل نه دي.» چې وروسته بیا د یمن د اطلاعاتو وزیر معمر اریاني په ځواب کې وویل: «یادې څرګندونې د دغې هوکړې پر ضد د انقلاب مانا ورکوي، په داسې حال کې چې له یادې هوکړې څخه یوازې څو ورځې تېرېږي. نوموړي ټینګار وکړ، چې په دې هوکړه کې له حدیده ښار او بندر، صلیف او راس عیسی څخه د ملېشو وتل شامل دي».
پوښتنه دا ده: ولې په داسې حال کې چې د هوکړې له لاسلیک څخه څو ورځې تېرې شوې، بیاځل اختلافات رامنځته شول؟! او لامل څه دی چې د هوکړې له لاسلیک کېدو څو شیبې وروسته بیا شخړې پیل شوې؟ او په ورته وخت کې ولې امریکا او برتانیې له یادې هوکړې څخه هرکلی وکړ؟ ایا د یادې هوکړې له مخې به د یمن غمیزه پای ته ورسېږي؟ الله سبحانه وتعالی دې بدله درکړي.
**ځواب:** تر دې وړاندې چې د سویډن هوکړې په تړاو خبرې وکړو، چې د ۲۰۱۸م د ډیسمبر پر ۶ مه یې په اړه خبرې پیل او د ښکېلو غاړو په تود هرکلي سره د ۲۰۱۸م د ډیسمبر پر ۱۳ مه پای ته ورسېدې. د یمن حالت په لاندې توګه خلاصه کوو:
**لومړی:** وروسته تر دې چې حوثیانو پر صنعا ښار ولکه ټینګه کړه، له پلازمېنې څخه یې د هادي حکومت وشاړه او د یمن ډېرې برخې یې ونیولې او د خپل حاکمیت قانوني کولو ته یې خورا اړتیا درلوده. امریکا په دې لټه کې وه چې دوی ته "مشروعیت" ورکړي، خو دا چاره اسانه نه وه، ځکه چې د یمن په سیاسي جوړښت کې ګڼ شمېر برتانیه پلوو شتون درلود. له همدې امله د امریکا لویه هیله دا وه چې حوثیان د یمن په سیاسي نقشه کې د یوې فعالې برخې په توګه مطرح کړي. حوثیان په شمالي یمن کې، په ځانګړې توګه په صعده ولایت کې لږه کې دي او دوی په عامو خلکو کې ملاتړ نلري، ځکه نو امریکا د حوثیانو ملاتړ وکړ، ترڅو دوی په یمن کې په فعال لوبغاړي بدل کړي داسې چې د دوی له شتون پرته باید هیڅ فیصله ونه شي. امریکا د دې کار لپاره له لاندې اقداماتو څخه کار واخیست:

1. امریکا سعودي عربستان وهڅاوه چې د "غوځ طوفان" په نامه هوايي عمليات به په دې موخه پيلوي، چې حوثي ياغيان به له منځه نه وړي. بلکې هغوی به د پردیو جنګي جټونو پر وړاندې د یمن واقعي مدافعين ښيي او په ورته وخت کې به دوی مظلومان او اتلان هم ښيي، ترڅو په دې توګه حوثي ياغيان عامه رايه خپله کړي.
2. انګليس پلوی ولسمشر هادي منصور يې په سعودي عربستان کې د بندي په څېر مېشت کړ، ترڅو فرصت ته په کتو سره پرې په اسانۍ سره فشار راوړي.
3. امریکا د ملګرو ملتونو د امنيت په شورا کې د خپل نفوذ په کارونې سره فشار راوړ، چې امریکا پلوی استازی یمن ته ولېږي او په دې چاره کې بریالی هم شوه او امریکا پلوی جمال بن عمر او ولد الشيخ يې د نړیوال استازي په توګه یمن ته ولېږل.

انګليس چې له لسيزو راهيسې په یمن کې اغېز لرونکی رول لري، ښه پوهېږي چې د یمن په سوېل کې خوځښت او په شمال کې حوثيان د امریکا د لاس آلې دي او غواړي د دوی پر مټ هلته خپل نفوذ پراخ کړي. وروسته تر دې چې حوثيانو د صنعا او د یمن نورې برخې په خپله ولکه کې راوستې او د ایران له لوري يې پام وړ پوځي ملاتړ تر لاسه کړ او په ځانګړې توګه کله چې سعودي خپل رول په یمن کې جوته کړ، نو انګليس پوه شو چې په یمن کې يې اغېز نور د ځوړ په حالت کې دی، له همدې امله انګليس د امریکا پلانونو او پروګرامونو ته په ځواب کې ښېرنې هڅې پيل کړې:

الف- هغه رول چې متحده عربي امارت يې په یمن کې مخ ته وړي د سعودي له رول سره موازي دی. په حقيقت کې متحده عربي اماراتو د حوثيانو له منګولو څخه د عدن ښار او په سوېل کې د نورو ښارونو په بيا ځلي لاسته راوړلو کې غوځ رول ولوباوه او د دغه رول له امله ياد هيواد د یمن په سوېل کې يو حرکت وپنځاوه. په ياد حرکت کې د امریکا لاسپوڅي له صحنې لرې شول، رول يې کم شو او په دې توګه د یمن سوېل خوندي شو.

ب: برتانيې خپل پخوانی لاسپوڅی علي عبدالله صالح په شمال کې د حوثي ياغيانو په ليکه کې ځکه وګوماره چې که حوثي ياغيان په راتلونکې کې واک په لاس کې واخلي، نو برتانيا وار له مخې له حوثيانو سره په واک کې شريکه وي همدارنګ علي صالح په ليکه کې د حوثيانو متحد شو او وړاندې تر دې چې ترور شي، کابو په خپله دنده کې بریالی هم شو.

ج: برتانيې ډېره هڅه وکړه چې یمن ته د ملګرو ملتونو انګليس پلوی استازی ولېږي او همداسې يې وکړه. په دې توګه برتانوی مارټين ګريفيس د یمن لپاره نړیوال استازی وټاکل شو.

**دويم:** برتانيه پوهېده چې د حوثيانو اصلي ملاتړی ایران دی. د صنعا هوايي ډګر تر تړلو او پر سويلي بندرونو د دولت تر ولکې وروسته، يواځينی شريان و چې ایران د حوثيانو د مرستو رسولو لپاره ترې کار اخيسته. له همدې امله امارتو د حديده بندر د تسلط لپاره ډېر جديت وښود. له همدې امله د حديده په شاوخوا کې شخړې او نښتې د امریکا له لورې په دې موخه وغندل شوې چې ګواکې هلته بشري مرستو ته خلک لاسرسی نلري او د حديده بندر له لارې مېليونونو يمنيانو ته مرستې رسېدلې. که امریکا په رښتيا هم بشريت ته پاملرنه کولی، نو په سوريه کې به يې د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې د خپلو ګوډاګيو مخه نيولې وای چې ښارونه يې د بېلرې بمونو پر مټ له خاورو سره خاورې کړل.

امریکا غوښتل د حديده بندر د ایران پوځي مرستو په موخه پرانيستی پرېږدي او د دې کار لپاره د توجيه پيدا کولو په لټه کې وه. حوثي ياغيانو له ایران څخه بلاستيک توغندي او بې پيلوټه الوتکې د همدې بندر له لارې ترلاسه کړې او بيا يې په سعودي عرب باندې توغولي او په متحده عربي اماراتو کې يې د همدې بې پيلوټه الوتکو پر مټ هدفونه په نښه کړي دي. خو پر وړاندې يې، سعودي عرب د خپلو الوتکو پر مټ د حوثي ياغيانو اډې نه دي په نښه کړې، بلکې ملکي وګړي يې په نښه کړي دي. د بېلګې په توګه حوثي ياغيانو تعز ولايت کلابند کړ او هلته يې خپلې مورچلې جوړې کړې او ياد مورچلونه په ډېرې اسانۍ تر

هوايي بمبارد لاندې راتلی شوای او د يادو سيمو کلابندي له منځه تلای شوای، خو کلابندي همدغسې پر خپل ځای پاتې ده! که پر سعودي د امريکا فشار نه وای، اماراتو به حوثي ياغيان ټول له حديده څخه شړلي وای!
د امريکا پلانونه او تګلارې د برتانيې له پلانونو او تګلارو سره په ټکر کې دي. امريکا د يمن پر ځينو برخو باندې د حوثيانو له کنټرول وروسته د بحران سياسي حللارې پلوی شوه، خو برتانيا په تمه وه چې سياسي حللارو ته تر رسېدو وړاندې، بايد حوثي ياغيان له ډېرو ماتو سره مخ شي او په پای کې بيا صعده ته ستانه شي او له نيول شويو سيمو څخه ووځي. له همدې امله ټولې مخکنۍ خبرې پرته له سياسي "لوبو" چې وخت تېرول و، بل څه نه وې. دغه ډول خبرې چې د سپټمبر په لومړيو کې په کويټ او ژنيوا کې وشوې، په داسې حال کې ناکامه شوې چې حوثي ياغيانو خپل استازی يادو ناستو ته نه و لېږلی. خبرې ناکامه شوې او حوثي ياغيان د حديده بندر له نيولو څخه د عربي متحده اماراتو د ځواکونو له لوري هغه وخت وتمبول شول چې د بندر په څنډو کې و. په ورته وخت کې متحده عربي اماراتو ډېر مهم رول ولوباوه؛ د حديده د جګړې لپاره يې ځايي ملېشې استخدام او سمبال کړې. سعودي عربستان د دې جګړې په ترڅ کې ډېر شرموونکی دريځ خپل کړ، هغه ونشو کولی چې د اماراتو ياد حرکت رد کړي، ځکه چې دوی د يوه ايتلاف په څېر په ظاهره په يمن کې د حوثيانو پر ضد جګړه کوله! همدا راز امريکا پر حديده باندې د بريدونو مخالفه وه. اماراتو د انګليس په دستور د بريد لپاره داسې وخت وټاکه چې امريکا تر دې پر مهمه موضوع بوخت وه. د حديدې جګړه د ۲۰۱۸م د جون پر ۸ مه او ۹ مه پيل شوه (الحرا، ۱۰/۶/۲۰۱۸). دا هغه وخت و چې امريکا د ټرمپ او شمالي کوريا د مشر د کتنو لپاره پر سختو تياريو بوخت وه، چې د ۲۰۱۸م کال د جون پر ۱۲ مه په سينګاپور کې ترسره شوه.
برتانيې داسې وخت غوره کړی و، چې امريکا پر حديده باندې د بريدونو مخه نشوای نيولی او له همدې امله د ملګرو ملتونو امنيت شورا د حديده جګړې په بندولو کې ناکامه شوه. «د ملګرو ملتونو امنيت شورا تېره ورځ د عربي ايتلاف له لوري چې مشري يې سعودي او امارات کوي، پر حديده باندې د بېړنيو بريدونو د بندولو لپاره کافي رايې ترلاسه نه کړای شوې» (الجزيره نت، ۱۵/۶/۲۰۱۸). د حديده جګړه او د متحده عربي اماراتو او د هغه د مليشو له لوري د حديده احتمالي کنټرول، په يمن کې د حوثي ياغيانو د واکمنۍ لپاره يو ستر ګواښ دی. له همدې امله حوثي ياغيانو خپل ټول ځواکونه وهڅول چې ياده موخه ترلاسه نه کړي او امريکا خپلې ټولې هڅې پيل کړې چې په يمن کې د بشري وضعيت پر خرابېدو ږغ پورته کړي او ووايي چې ګواکې حديده په يمن کې د قحطۍ د له منځه وړلو لپاره يوازېنۍ لار ده. متحده عربي اماراتو او د هغه ځايي متحدينو له نړيوالو فرصتونو څخه په استفادې سره پر حديده باندې ګڼ بريدونه کړي او په حديده ښار او بندر کې يې مخکنۍ وضعيت حاکم کړي- کوم چې د حوثي ياغيانو لپاره يو ستر ګواښ رامنځته کوي او دا پخپله د امريکا نفوذ ننګوي. په دې وروستيو مياشتو کې د حديده پر شاوخوا باندې خال خال بريدونه د يمني جګړې تر ټولو خطرناکه برخه وه. په ځانګړې توګه امريکا و نه توانېده چې په يمن کې د سعودي او اماراتو ايتلاف ټوټه ټوټه کړي او نه يې هم وکولی شول چې د فشار پر مټ سعودي له جګړې راوګرځوي. په داسې حال کې چې سعودي د جګړې درنده بيه پرې ورکوي، خو حالت په ټپه ولاړ دی او همداراز د سعودي ژورناليست جمال خاشوقجي د ۲۰۱۸م کال د اکتوبر د لومړيو وحشي وژنه د سعودي لپاره يو بل ستر شرم او ننګ شو.

**درېيم**: په استانبول کې د سعودي ژورناليست خاشقجي وژنې د سعودي عربستان پر وړاندې داسې نوی چاپيريال را منځته کړ، چې د امريکا د ګټو لپاره کار ترې اخيستل کېدای شوای:

۱- د سعودي امنيتي چارواکو په استانبول کې د سعودي په کونسلګرۍ کې يو وحشي کړنه تر سره کړه، چې دا پېښه په نړيواله کچه د سعودي عربستان پر وړاندې د يو ستر کمپاين لامل وګرځېده، چې په ضمني ډول او ځيني وختونه يې په عمومي ډول د سعودي د وليعهد محمد بن سلمان د محاسبې غوښتنه کوله، داسې چې

د انساني ارزښتونو خلاف يې ناوړه او ظالمانه کړنه تر سره کړې. که څه هم په اسلامي خاورو کې د سعودي عربستان حاکم او نورو جنايت کارو حکامو د خپلو خلکو پر وړاندې په استانبول کې د سعودي ژورناليست د وژنې په پرتله لا ډېر ناوړه او وژونکي جنايتونه تر سره کړي دي، خو دغې کړنې په کافي اندازه احساساتي عواطف را وپارول، چې د ډېرو هيوادونو له لوري له کلکې غندنې سره مخ شول. اروپايي هيوادونو هڅه وکړه ترڅو له دې پېښې څخه د امريکايي مزدور بن سلمان د کمزوره کولو لپاره کار واخلي او که شونې وي له واکه يې ليرې کړي، خو امريکا په چټکۍ سره د ولسمشر ټرمپ د تویېږونو له لارې د بن سلمان لپاره نږيوال سپر چمتو کړ او کوم څه چې سعودي وليعهد ويل هغه يې د باور وړ وبلل، په دې ډول يې نوموړی له تورونو خلاص کړ. ټرمپ په ډاګه وويل، چې دی به له سعودي عربستان سره د وسلو له ټړون څخه لاس وا نه خلي، ځکه د دې ټړون ګټه دا ده چې په امريکا کې د بې روزګارۍ مخه نيسي، په دې سره د ټرمپ د اداري پر وړاندې د کانګريس د غړو فشار زيات شو او د کانګريس غړو د ټرمپ اداره تورنه کړه، چې «امريکايي ارزښتونه» د سعودي د پيسو په بدل کې پلوري. وروسته د کارنګريس له لوري د ولسمشر ټرمپ پر وړاندې د محمد بن سلمان د دفاع له امله د ملامتيا بې مخينه تاريخي اعلاميه تصويب شوه. «ولسمشر ډونالډ ټرمپ په بې مخينه او تاريخي ډول سپک شو، د امريکا سنا د پنجشنبې په ورځ په دې اړه رايه اچونه وکړه، ترڅو د يمن په جګړه کې د امريکا پوځي ملاتړ نور پای ته ورسېږي او د سعودي وليعهد محمد بن سلمان د ژورنالېست په وژنه کې پړ بلل شوی. د سعودي تبعه جمال خاشقجي وژنې په اړه سنا مجلس په يو تاريخي ګام کې ۵۴ تاييد او ۴۱ رد رايو په پايله کې پريکړه وکړه، چې په يمن کې د سعودي په مشرۍ اييتلاف سره دې د امريکا پوځي ملاتړ نور پای ته ورسېږي». (رویټرز ۱۴/۱۲/۲۰۱۸ )

۲- کله چې د کانګرېس زياتو غړو د سعودي وليعهد (د امريکا له ريښتېني لاس پوځي) سره د اړيکو د پرېکون په اړه غبرګون وښود او ځينو يې سعودي ته د وسلو د نه ورکړې غوښتنه وکړه، د هغو وسلو چې ټرمپ يې په اړه لاپې وهلې، چې په دې سره به په امريکا کې نوې دندې را منځته شي. بيا د ټرمپ ادارې هڅه وکړه چې د خاشقجي له قضيې څخه د پام اړولو په پلمه چې له امله يې سعودي تورن دی، په بله اړينه موضوع کې سعودي عربستان داسې وښيي چې له بشري حقونو، امنيت او سولې څخه ملاتړ کوي او دا چې سعودي له ملګرو ملتونو سره همکاري کوي. د بن سلمان همکاري د سويډن د خبرو اترو پر مهال را برسېره شوه «تمه ده چې د ملګرو ملتونو مشر انتونيو ګوتريش سويډن کې د خبرو اترو په وروستي پړوا کې برخه واخلي او په يمن کې خپل د سولې د استازي له هڅو څخه ملاتړ وکړي، ترڅو يو سياسي بهير را پيل شي او روان څلور کلن جنګ پای ته ورسوي». د سعودي د رسمي خبري اژانس په وينا ګوتريش له سعودي وليعهد محمد بن سلمان سره تليفوني اړيکه نيولې، ترڅو د يمنۍ شخړې د وروستيو پرمختګونو او هڅو په اړه سره خبرې وکړي. (رویټرز۱۲/۱۲/۲۰۱۸)

د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونيو ګوتريش د بن سلمان پر همکارۍ ټينګار وکړ: «د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونيو ګوتريش پنجشنبه له العربيه تلويزوني شبکې سره په خبرو کې د يمن په تاريخي ټړون کې چې د انصار الله او يمني دولت تر منځ وشو، د وليعهد محمد بن سلمان رول په ډاګه کړ... د ملګرو ملتونو مرستيال وياند فرحان حق د پنجشنبې په ورځ د ملګرو ملتونو د نيويارک په مرکزي دفتر کې خبريالانو ته وويل: «د ګوتريش په آند د وليعهد همکاري روغې جوړې ته د رسېدو لپاره ډېره اړينه ده» ( ۱۳/۱۲/۲۰۱۸ Arabic.Sputniknews). په دې ډول امريکا د ده رول په فوق العاده توګه په ډاګه کړ، همدا علت وو چې ګريفيټ ته دنده سپارل شوې وه ترڅو د وليعهد رول وستايي، ګريفټ له اردن څخه په يو ويډيويي کنفرانس کې وويل: «له يمني اړخونو سره خبرې اترې يوې معاملې ته د رسېدو لپاره بريالۍ وې. ده زياته کړه: زه له جلالتماب وليعهد شهزاده محمد بن سلمان څخه مننه کوم چې له خپل لوري يې د دې بهير په اړه د حياتي

او شخصي ملاتړ ډاډ راکړ.» (الوطن نیوز ۱۴/۱۲/۲۰۱۸). دا ټول ښيي چې امریکا لېواله وه، ترڅو د لاندې دریو دلایلو په رڼا کې دا تړون را منځته شي:

لومړی: د سعودي عربستان انځور ته رنګ ورکول، دوهم: له سعودي عربستان څخه نړیوال شرم لیرې کول او د سعودي ژورنالېست پر قضیه پرده اچول او دریېم: له مالي پلوه د سعودي عربستان ګواښل! دغه دریېم ډول یې ټرمپ ته ډېر مهم دی... اوس مهال امریکا غواړي چې د سعودي انځور کم رنګه کړي او یا د خپل مزدور محمد بن سلمان او پلار له سترګو یې شرم لیرې کړي، خو په دې کړنې سره غواړي وښیي چې دوی له «ستونزې» ژغوري او بیا یې د سعودي د تېلو په بدل کې استثماروي، ترڅو د نړیوال شرم د لیرې کولو په پلمه یې «وزبېښي» او دا د ټرمپ د سوداګریزې شکونې د پالیسی له روان سره اړخ لګوي، چې شعار یې دی «موږ. ته روپې راکړئ»!

۳- کوم څه چې دې تړون ته په رسېدلو کې د امریکا ګټې په ډاګه کوي، هغه څه دي چې په امریکا کې د چارواکو له لوري په ډاګه شوي، همدا رنګه د هغه څه له ځواکه غورځول چې په ډاګه شوي دي لکه:

امریکا په یمن کې د دېرشو ورځو په ترڅ کې د اوربند غوښتنه کړې او فشار یې زیات کړی، ترڅو د سعودي په مشرۍ عربي ایېتلاف اړ کړي، چې د ملکي وګړو د استوګنې پر سیمو له بمباریو څخه لاس واخلي. د دفاع وزیر جېمز متېس د یمن په کړکېچ کې پر ټولو اړخونو ږغ کړی، چې د دېرشو ورځو په ترڅ کې اوربند وکړي او جدي خبرو اترو ته غاړې کېږدي، ترڅو په دې هیواد کې جګړه پای ته ورسېږي. متیس په واشنګټن کې د سولې امریکایي انسټیټیوټ په یوه سمینار کې د وینا پر مهال وویل: «د اوږد مهالي حللارې لپاره موږ. اوربند ته اړتیا لرو، د پولې له پورې غاړې را نیولې بیا د هوایي بمبار تر درېدو پورې... د یمن په کړکېچ کې ټولې ښکېلې غاړې باید د راتلونکو دېرشو ورځو په ترڅ کې د خبرو اترو مېز ته کښېني». ده په ټینګار سره وویل: «په یمن کې جنګي اړخونه حتمي باید د سولې هڅو ته غاړه کېږدي» او زیاته یې کړه: «موږ. اړ یو چې دا هر څه په راتلونکو دېرشو ورځو کې تر سره کړو، زه ګمان کوم سعودي عربستان او متحده عرب امارات هم چمتو دي چې په دې برخه کې د پام وړ ګام واخلي». (ګلف انلاین ۳۱/۱۰/۲۰۱۸)

-امریکا د ملګرو ملتونو عمومي سرمنشي ګوتریش ته دنده ورکړه، ترڅو د سویډن خبرې اترې وڅاري او د خبرو اترو لوري تر فشار لاندې راولي ترڅو یوه تړون ته رسېدل او یا د یو تړون پیلېدل ډاډمن کړي او د برتانیې نړیوال استازي ګریفیټ ته هر څه پرې نږدي. د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتریش په سویډن کې په وروستیو خبرو اترو کې د ګډون لپاره دې هیواد ته ځي، چې په یمن کې د سولې او سیاسي بهیر د پیلېدو په لړ کې د خپل استازي د هڅو ملاتړ وکړي، ترڅو په یمن کې نږدې څلور کلنه جګړه پای ته ورسوي». (رویټرز ۱۲/۱۲/۲۰۱۸)

د سعودي عربستان له لوري پر یمني ولسمشر هادي فشار په دې مانا دی، ترڅو وړاندې شوی تړون ومني. یوې سرچینې الجزیرې ته ویلي چې سعودي عربستان پر یمني ولسمشر عبدالرب منصور هادي فشار راووست، ترڅو د یمني دولت مرکچي پلاوي ته لارښوونه وکړي چې د سویډن د روغې جوړې په غونډه کې په حدیده او بندر کې یې د اوربند پرېکړه ومني. د سرچینې په وینا د دولت پلاوي هادي ته، چې په ریاض کې مېشت دی یوه پاڼه سپارلې او سپارښتنه یې کړې چې تړون لاسلیک نه کړي، ځکه په دې تړون کې په واضح ډول نه دي ذکر شوي چې حوثیان به د حدیده ښار او بندر پرېږدي او که نه، خو د سرچینې په وینا د تېرو څو ساعتونو په ترڅ کې د سعودي تر زیات فشار وروسته د یمن ولسمشر ته لار ښوونه شوې چې تړون لاسلیک کړي.(Al-Jazeera.net ۱۳/۱۲/۲۰۱۸)

-په چټکۍ سره د ملګرو ملتونو د يو جنرال ګمارنه دا مانا لري، چې په حديده کې د اوربند څارنه وکړي. ملګرو ملتونو يو هالنډي جنرال وټاکه، چې د يمني لوريو تر منځ د اوربند د څار د ماموريت مشري وکړي. يمن لپاره د ملګرو ملتونو د استازي مارټين ګريفيټ په وينا، متقاعد هالنډي جنرال پټريک کماريت هوکړه کړې چې په يمن کې د څارنې ماموريت مخ ته يوسي او زياته يې کړه، چې کماريت به په څو ورځو کې سيمې ته ورسيږي. (يمن نيوز۱۴/۱۲/۲۰۱۸) د يمن ليدلوري ويبپاڼې د ۲۰۱۸ م کال د ډيسمبر پر ۲۰مه راپور خپور کړ، چې د ملګرو ملتونو وياند سټيفن ډيوجريک ويلي: «د کمېټې مشر هالنډی متقاعد جنرال به سبا پنجشنبه اردن ته ولاړ شي او له هغه ځايه به صنعا او بيا حديده ته لاړ شي.

-له ياد تړون څخه په ډاګه د امريکا هرکلي لکه څنګه چې د بهرنيو چارو وزير پمپيو له تړون څخه د ملاتړ پر مهال وويل: «په يمن کې سوله شونې ده (بي بي سي۱۴/۱۲/۲۰۱۸). ده په خپلو خبرو کې وويل: «د يمن جمهوري دولت او حوثيانو تر منځ د روغې جوړې لپاره دا لمړنی قاطع ګام دی چې ښکېلو اړخونو اخيستی او همداراز سوله شونې ده. ټولې غاړې دا فرصت لري چې ګام واخلي او د ټولو يمنيانو ژوند ته پرمختګ ورکړي او مخ ته ولاړ شي، ټول بايد خپل ګډون ته همداسې دوام ورکړي، شخړې را کمې کړي او روانه دښمني نوره ودروي. (Yemeni Scene ۱۴/۱۲/۲۰۱۸)

له حوثيانو سره د امريکا د سفير اړيکې: «د يمن لپاره د امريکا سفير متيو ټولر په سټاکوهلم کې د خبرو اترو په کفرانس کې د وينا پر مهال وويل: «موږ د سفيرانو او ډلو تر منځ رسمي ناسته وکړه، چې د حوثيانو پلاوي غړيو هم شتون درلود، ما په خپله طريقه د حوثي ډلې له ځينو غړيو سره په يو ښکلي خای کې کتنه درلوده چې په رښتيا هم ښکلې ليدنه وه.» له ده څخه پوښتنه وشوه، چې ايا دا ناسته له دوی سره مخامخ او رسمي وه؟ ده وويل: هره ناسته چې ما ترسره کړې رسمي وه، ځکه زه ۲۴ ساعته د يمن لپاره د امريکا سفير يم. (سعودي خاورميانه ورځپاڼه، ۱۳/۱۲/۲۰۱۸)

څلورم: که څه هم د سويډن هوکړه د امريکا تر فشار لاندې ترسره شوه، خو بيا يې هم هرکلي وشو او برتانيې يې هم ځکه هرکلی وکړ، چې امريکا عامه رايې ته داسې لوری ورکړی و، چې په يمن کې بشري ناورين رامنځته کېدای شي او دا چې د يمن خلک له وږرجنې قحطۍ سره مخ دي، ماشومان يې د جګړو له امله مړه او ژوبل کېږي او داسې نور...، په دې مانا لکه د يمن جګړه او دا ناورين چې نن پيل شوی وي! د امريکا له لورې فضا داسې جوړه شوې وه، چې برتانيې ته له هرکلي پرته بله لار نه وه پاتې. خو د دې لپاره چې برتانيه د خپلې موخې بدلون ته لاره هواره کړي يا لږ تر لږه خپله چټکتيا را کمه کړي، همدا و چې د دې هوکړې هرکلی يې وکړ. سه شنبې د بريتانيې د بهرنيو چارو وزارت په يمن کې د اوربند هرکلی وکړ. د برتانيې د بهرنيو چارو وزير جيرمي هنټ د بهرنيو چارو د وزارت د ټويټر پر پاڼه د يمن لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي مارټين ګريفټ هڅې وستايلې. (يمن نيټ ۱۸/۱۲/۲۰۱۸)

په ورته وخت کې برتانيې د دې هوکړې د پلي کېدو په پلمه د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته د بحث لپاره يوه مسوده وړاندې کړه: «د ملګرو ملتونو لپاره د بريتانيې همېشني استازي، کېرن پيرس وويل: «برتانيه له ملګرو ملتونو څخه د يوې بلې بيانيې په لټه کې ده، پر همدې بنسټ يې د ملګرو ملتونو په امنيت شورا کې د بحث لپاره يوه مسوده وړاندې کړه. برتانيه به په ملګرو ملتونو کې د يمن د قضيې د يوه مسول په توګه د امنيت شورا له ټولو غړو سره په ګډه پر دې کار پيل کړي، ترڅو د شويو هوکړو عملي کېدل وڅاري او په ورته وخت کې به ملګرو ملتونو ته دا زمينه برابره کړي، چې د يمن حالات په دقيق ډول وڅاري او لازم ګامونه پورته کړي». (د انګليس حکومت له خولې د يمن د ځوانانو انټرنټ پاڼه، ۱۴/۱۲/۲۰۱۸)

سه شنبه ديپلوماتانو وويل: «ملګري ملتونه د برتانيې له لورې په وړاندې شوې مسوده کار کوي، چې په کې د ملګرو ملتونو د سازمان له مشر نه غوښتنه شوې چې د دې مياشتې تر پايه يوه داسې لايحه تصويب کړي، چې پکې د حديده د اوربند د څارنې شرطونه څرګند شوي وي. په ورته وخت کې برتانيې د دې مسودې د ملاتړ لپاره د امنيت شورا له نورو غړيو سره ليدنې پيل کړې دي. دا لاتراوسه څرګنده نه ده چې ياده مسوده به څه وخت رايې اچونې ته وړاندې کېږي. دا مسوده ۹موافقو رايو ته اړتيا لري. د امريکا متحده ايالات، فرانسه، برتانيا، چين او روسيه د دې هوکړې د ويټو حق نه لري. (العين نيوز. ۲۰۱۸/۱۲/۱۸)

د برتانيا دولت دا مسوده په دې پلمه وړاندې کړه، چې د هوکړې عملي کېدل وځاري، خو په اصل کې دا ډول نه ده، بلکې برتانيه په دې ډول غواړي د جګړې ښکېلو غاړو ته دا احساس ورکړي، چې دوی يوازې نه دي او کولی شي چې د يمن د خلکو وژلو او د يمن ورانولو ته لاهم ادامه ورکړي، ترڅو په دې ډول د برتانيې ګټې خوندي پاتې شي. ځکه نو موږ وايو:

امريکا او متحدين يې، په تېره بيا سعودي عربستان د يمن د جګړې د پای ته رسېدو لپاره جدي دي، پر همدې بنسټ يې له حوثيانو سره خبرې اترې او مذاکرات پيل کړي دي، خو د دې مذاکراتو له لارې غواړي له ايراني پلوه حوثيانو څخه د يمن غوښمنه(ګټوره) برخه واخلي. په خبرو کې دا جديتوب د سويډن له خبرو څخه څرګندېږي. خو امريکا يوه داسې حللاره نه غواړي، چې په هغه کې دې د برتانيې اغېز زيات وي. برتانيه د سويډن مذاکراتو ته د ۲۰۱۸م کال د ديسمبر پر ۱۳مه خپل د بهرنيو چارو وزير واستاوه، ترڅو د ملګرو ملتونو استازی ګريفيټ او د سازمان له مشر ګوتريش څخه خپل ملاتړ اعلان کړي، له همدې امله د دې مذاکراتو موضوع يوازې تر حديده بندر پورې محدوده وه او نورې قضيې په تېره بيا د صنعا هوايي ډګر موضوع راتلونکو مذاکراتو ته وځنډول شوه. د دې اوربند د عملي کېدو په اړه د يمني حکومت د پلاوي موقف هم شکمن ښکارېده او داسې معلومېده، چې دا پلاوی د سعودي عربستان، د ملګرو ملتونو د سازمان د مشر او امريکا تر فشار لاندې دی.

اليمني د خبرو اترو تر پای ته رسېدو وروسته د سويډن په ريمبو ښار کې يوه جوړ شوي کنفرانس ته وويل، چې د يمن حکومت له حوثيانو سره ۷۵هوکړو ته رسېدلی، خو حوثيان به يې عملي نه کړي. ده حوثيان تورن کړل، چې د تعز ښار له محاصرې نه لاس نه اخلي. اليمني د صنعا د هوايي ډګر په اړه وويل چې د يمن حکومت دې ته تيار دی چې د صنعا هوايي ډګر د نړيوالو پروازونو پرمخ پرانيزي، خو حوثيانو دا خبره نه ده ورسره منلې. اليمني زياته کړه، هغه پروژه چې دا کودتا پای ته رسولی شي له حديده څخه پيلېږي. نوموړي زياته کړه ملګري ملتونه او نړيواله ټولنه دا مسوليت لري، چې حوثيان د دې هوکړې پلي کولو او د بنديانو تبادلې ته اړ باسي... نوموړي د ملګرو ملتونو د سازمان د مشر انتونيو ګوتريش د هغو څرګندونو په اړه چې د نويو مذاکراتو د پيلېدو په اړه يې کړې وې، وويل: «تر هغه وخته بايد نوي مذاکرات پيل نه شي، ترڅو چې زړې هوکړې پلي شوي او د عمل جامه يې نه وي اغوستې». (نن روسيه ۲۰۱۸/۱۲/۱۳)

له دې امله، د ۲۰۱۸م کال د ديسمبر پر ۱۴مه، ۱۵مه او ۱۶مه نېټه چې د حديده په ځينو کې کومې نښتې وشوې، له هغو نه داسې ښکارې، چې د حديده تړون پلي کېدل به ګران کار وي. د سويډن له هوکړې لږ وروسته د ملګرو ملتونو سازمان اړ شو، ترڅو په دې اړه خپله رايه څرګنده کړي. د ملګرو ملتونو يوې سرچينې وويل: «که څه هم د حديده تړون د بېړني اوربند غوښتنه کوي، خو دا يوه عادي خبره ده چې د جګړې تر ډېره د اوامرو رسول له ۴۸ څخه بيا تر ۷۲ ساعتونو پورې وخت نيسي. موږ هيله من يو چې اوربند به له سې شنبې څخه پلی شي». (رويټرز ۲۰۱۸/۱۲/۱۶).

له دې سره سره بیا هم د حالاتو د بدلون شونتیا شته. له یوه اړخه امریکا غواړي جګړه پای ته ورسېږي، په تېره بیا په حدیده او شاوخوا بندرونو کې او له بلې خوا تکل لري چې د حوثیانو د پاېښت او بقا لپاره د سیاسي حللارې «ړ.غ» پورته کړي، لکه په حدیده کې. همدارا‌ز بیا برتانیا غواړي چې تر وروستۍ کچې حوثي وسله وال په جګړه کې وځپي او وړاندې له دې چې مذاکراتو ته سره کښېني، حوثي وسله وال باید په حدیده کې ډېر کمزوره شوي وي.

پنځم: د وروستۍ پوښتنې د ځواب په اړه (ایا تمه کېدای شي، چې دا هوکړه دې د یمن جګړه پای ته ورسوي؟) باید ووایو:

دا هوکړه د یمن جګړه او ناورین پای ته نه شي رسولی، ځکه په سیمه کې د امریکا او برتانیې دواړو ګټې یو له بل سره په ټکر کې دي او د دوی د کوربه لاسپوڅو ګټې هم، چې دا هوکړه یې لاسلیک کړې. د دې هوکړې لویه پایله به دا وي چې تر لنډې مودې پورې به جګړه سړه او اغېز به یې راکم کړي، خو د وخت په تېرېدو سره به بیا د جګړې لمبې تازه شي او دا ځلې ښایي پانګوال مشران دواړو اړخونو ته د ځواکونو تر منځ انډول ته په کتو سره د روغې جوړې پر بنسټ مخ پر وړاندې ولاړ شي. البته باید ووایو چې دا هوکړه د یمن جګړه او ناورین ته د پای ټکی نه شي ایښودلی، بلکې په یمن کې به جګړه د سیاسي او نظامي ځواکونو د انډول لمخې بدلون کوي، کله به ورو کېږي او کله به بیا زور اخلي. لکه څنګه چې مو په تېرو څرګندونو کې ویلي و، دا جګړه له دوو څخه په یوه لاره پای ته رسېدای شي:

لومړی: امریکا یا برتانیا به موضوعاتو ته په خپله ګټه حللاره مومي او د یمن حاکمیت به یو اړخ په خپله ولکه کې راولي. دا کار لکه وړاندې چې مو ویلي، شونتیا نه لري.

دوهم: الله سبحانه و تعالی به د خپلې خوښې پر بنسټ دا امت په خلافت سره عزتمند کوي، خلافت به له دې هیواده د ښکېلاککرو ریښې باسي او دغه راز به له دې هیواده خاین او لاسپوڅي مشران شړي. کفر او د دوی پلویان به شرمنده شي، اسلام او مسلمانان به عزتمند شي او مسلمانان به د الله سبحانه و تعالی په ملاتړ سره بریا ترلاسه کوي.

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾**

[الروم:۴-۵]

*ژباړه:او نن ورځ به مومنان د الله سبحانه و تعالی په نصرت سره خوشحاله وي او الله سبحانه و تعالی هر هغه چا ته نصرت ورکوي، چې خوښه یې وي او دی سبحانه و تعالی برلاسی او رحم لرونکی دی .*

او د یمن خلک، چې ایمان لرونکي او د علم څښتنان دي، حتمي باید دغې موضوع ته په درنه سترګه وګوري، ترڅو د دنیا او اخرت بریا ورپه برخه شي او الله سبحانه و تعالی د صالحانو ملاتړ کوي.

**۱۴۴۰هق، د ربیع الاخر ۱۳مه**

**۲۰۱۸م، د دیسمبر ۲۰مه**